آصف بهاند ۲۰۲۳/۰۳/۲۲

لنډۍ، د ثبتولو ستونزه

یوسلونهه نویمه برخه

د بیوسۍ حد ته مې ګوره
چې خدای راکړې ژبه ګونګه ګرځومه

د طالبي قاضي فتوی ده
په تش کتو مې، له هر څه محرومینه

پهٔ تعویذو بهٔ مې غوښتلي
اوس درنه ځان پهٔ بابا ګانو خلاصومه

د دې برخې لپاره دا لنډۍ غوره شوې دي:

که یاري کړې، سپرنۍ کال دی
تر بله کاله به بدرنګ وي صورتونه

د بیوسۍ حد ته مې ګوره
چې خدای راکړې ژبه ګونګه ګرځومه

بارانه ورو، ورو پرې ورپېره
وړې، وړې جینکۍ غره ته تللې دینه

پرپېرده چې اوښکې مې بهېږي
زه لــه وطنــه پــه ژړا راغــلــی یمــه

د زړګي زور مې اوبه شوی
تش دې د نوم په اخیستو ژړا راځینه

په کار دې نه وم، درنه لاړم
که دې پکار وای، نازولی به دې ومه

د طالبي قاضي فتوی ده
په تش کتو مې، له هر څه محرومینه

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د صحرايي قاضي تصميم دی
په تش خندا مې له تمام کلي شړينه

د رباب زير او بم ته پام کړه
تر زير و بم لاندې مې زړه دی وبه چوينه

شېبه ديدن د بربېننا پړق و
ما ته دې پرېښودل د غره په شان غمونه

جانان د ښو وختونو يار و
چې بده ورځ شوه بيا يې ونه شوه پوښتنه

اوس د هيچا د سيالۍ نه يم
لکه زخمي کوتره بېله ناسته يمه

په ويښه يو ځلې رانغلې
په خوب کې نښې راکوې چې در به شمه

پهٔ تعويذو بهٔ مې غوښتلې
اوس درنه ځان پهٔ بابا ګانو خلاصومه

جانان د ښو وختونو يار و
چې بده ورځ شوه بيا يې ونه کړه پوښتنه

ښه شوه چې ژر درنه جدا شوم
د شر کوديه په يارۍ دې شرميدمه

تمه زما د يارۍ مه کړه
زه يې په بدو کې وړه ورکړې يمه

تېره روژه کې راسره وې
اوس نصيب داسې چې بې تا يې تېرومه

په جدائي کې ارمان راغی
کاشکې مې تا ته په ځير، ځير کتلي وونه

په سرَطان دې خدای اخته کړي
چې له هېواده سره څوک جفا کوينه

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ